بســـــــــــــمل

۱۹ فبروری ۲۰۱۳



## دميرويس نيكه جامع جومات مشرتابه هيأت رسماًوټاکل شو

دجرمني دبايرن ايالت په مونشن ښارکي بايرن مېشتوافغانانوپخپل لوی اسلامي اوفرهنګي مرکز(دميرويس نيكه په جامع جومات)کي ټاکني ترسره کړې.

دغه ټاکني دوروري په يوه آزاده فضأاو دعلني رايو ورکولوپه ترڅ کي ترسره شوې.

غونډه محترم جنرال صاحب عمرهوشيارزي اومحترم حاجي صاحب نسيم په مخ وړله ، چي له پرانستني وړاندې محترم جنرال صاحب هوشيارزي ګډونوالوته دغونډې په اړوندعمومي مالومات ورکړل.

څوشېبې وروسته غونډه رسمأدحاجي صاحب حبيب الله له خوادقرآن عظيم الشأن په څومبارکو ايتونوپيل شوه.

ورپسي دميرويس نيكه دجامع جومات دمشرتابه هيأت مشرمحترم حاجي صاحب احمد احمدزي دترسره شويو چاروروپوټ وړاندې کړدبېلګې په ډول يې دملا امام دراوستلو(مقرري)، دپخلنځي ســمون ، دروژې مباره کي په ورځو اوشپوکي ګډونوالوته دروژه ماتي اوختمونوتنظيمول ،دفاتحو، نـکاح اونوروناستولپاره داسانتياوو،د اودس تازه کولو لپاره دنويوتشنابونودجوړېدلو، دافغانانوداتفـاق لپاره هراړخيزې هلي ځلي اودميرويس نيكه دجامع جومات دكرايي په منظم ډول ورکولويادونه وکړه.

ديادولو ده، چي محترم حاجي صاحب احمــد احمدزی لا ډېره موده وړاندې دګڼ شمېر افغانانوله خوادمشر تابه هيئت دمشرپه توګه منل شوی واودخپلونه ستړي کېدونکوهلوځلوله برکته يي نن يوسـيال هم ونه ليدل شومانا په وړاندې يې هيڅچاځان کانديدنه کړ او درايوپه اتفاق رسمأدميرويس نيكه جامع جومات دمشرتابه هيئت د مشر په حيث وټاکل شو.



دمشرتابه هیأت مرستیالي ته دمیرویس نیکه دجامع جومات لوی خـــــادم په ټولوګران اومخلص محترم حاجي صاحب انجنیر غمی کاکړ ونومول شو چې دهغه په وړاندې هم څوک حاضر نه شول او درایو په اتفاق وټاکل شو.



دمالي چارومســـؤل چې لا پخواهم محترم حاجي صاحب حبیب الله و هغه هم میدان وګاټه کوم چا یې سیالي ونه کړه اودرایوپه اتفاق وټاکل شوالبته هغه هم په لنــــډډول دخپلواجراتوله هغې جملې دجومات دتضمین د پیسو چې دلته ورته(کاوځیـــون )وایي خبرې وکړې اوزیاته یې کړه چې یادې پیسې دقست په ډول دجومات دملکیت مالک ته ورکول کیږي دکرایې یادونه یې هم وکړه چې له ۲۵۰۰سووایوروڅخه تقریباً۲۶۵۰ســو ایوروته پورته شوې خوله نېکه مرغه هرڅه له منفي څخه نارمل اوحتی مثبت حال ته پورته شوي دي.
دمالي چارومرستیالي ته زموږ یومنلی سپین ږیری اودرونـــدمشرمحترم ډګروال صاحب احمد ظفر ونومول شو چې هغه محترم هم کوم سیال نه درلوداوپه ډېره خوښي سره درایو په اتفاق وټاکل شو.
په غونډه کې ترټولوپه زړه پورې اوشخصأزمادخوښي وړبرخه داوه چې دمیرویس نیکه دجامع جومات مشرتابه هیئت ته داخل زموږ یوه محترمه بي بي حاجي خورچې تورپېکی ظفرنومیږي هم د رایوپه اتفاق وټاکل شوه.

داقدرمنه خورزموږ دپردېسوماشومانودرسي پالنه کوي دخپلې مورنی ژبې خواږه خواږه توري ورښيي، دګران هېواد(ويارلي افغانستان) محبت اومعـنويت ورښيي زه په داسي خوندو اوورونوويارم چي په بهرکي زيږېدلو ماشومانوته زموږ دزخمي زخمي افغانستان مينه ورکوي هو! مينه اوبياهم داپاکه اوسپېڅلي مينه.

څکه خوزه دزړه په مينه پورتنيوټولوګټونکوته مباره کي وايم، پخپلوچاروکي له پاک سبحان څخه ورته ستري برياوي غواړم البته ترڅنګ يې داهيله هم لرم، چي د يومشروع رقابت په چوکاټ کي زموږ نوروورونه اوخويندې دسباليپاره ددوی دځای ناستني په موخه متي راونغاړي ترڅوزموږ دغه لوی اسـلامي او فرهنګي مرکز دنړی په مخ له دېرونوروواسـلامي او فرهنګي مرکزونوسره دسيالی لوړومناروته پورته شي.

دپورتنی بريالی غونډې په ورستيوکي ديو کميسيون وړانديز وشوترڅوپه زړه اساسـنامه له سره غوروکړي او دجرمني دبنسټيزقانون داصولوپه مراعت اړين بدلونونه پکي راولي.

دا هم ديادولو ده، چي دميرويس نيکه دجامع جومات مشرتابه هيئت پخوا يوازې درې کسيز و خو اوس دچارو دلا ښه تنظيم لپاره درايو په اتفاق پنځه کسيز ومنل شواو کاري دوره يي دوه کلنه ومنل شوه.

په اخېرکي ځينوخويندواوورونودميرويس نيکه جامع جومات دلاښه سمبالښت اوسمون لپاره يولړ خورا ګټور وړانديزونه هم وکړل چي ستاسودوخت دنه نيولولپاره يي دلته ليکل لازم نه بولـم خو يوازې دومره ليکم ، چي له نېکه مرغه چارې په ښه ډول په مخ رواني دي ځيني وړې اوبې مورده شکر رنجی چي لاله پخواموجودي وی هغه مخ په ورکېدودي.

ددې غونـډې په وروستی برخـه کي محترم جنرال صاحب هوشيارزي دټولوګډونوالوپه استازيتوب ټاکل شوي مشرتابه هيئت ته مباره کي ووېله اوترڅنګ يې ددرنوافغان رسنيو(برېښـناپاڼو)له قدرمنومسـؤلينولکه د ټول افغان،بېنوا،لراوبر ،دعوت او ګڼ شمېر نوروڅخه يادونه اوقلبـأمننه وکړه چي تل يې دميرويس نيــکه دجامع جومات خبرتياوې ،رپوټونه اوروان جريانات بې له ځنډه خپاره کړي دي دلته زه هم ديادو رسنيوله درنواوپتمنو مسؤلينوڅخه منندوی يم چي تل يې خپل اخلاص ښودلی دی اجرونه يي په برخه اولايي په عزت لرې.



لنډه يې داچي غونډه په خوښي سره پای ته ورسېده دمازديګرلمونځ اداُشوخدای پاک دې قبول کړي له دعا څخه وروسته مامحمدامين بسـمل ديووالـي،وروروليٰ، عفوې اوزغـم په اړونديوڅوخبرې وکړې چي درب تعالی په فضل سره ددرنوحاضرينوله نيک غبرګون سره مخامخ شوم کور يې ودان په نېت اوسخاوت يې برکت.

زماله خبرو وروسته دغونډې ګډونوال ټول دډوډۍ په دستارخوان سره راټول شول خوزه دکاري بيړې له وجې ور څخه رارخصت شوم .



پاته دې نه وي چې دميرويس نيکه دجامع جومات له مشرتابه هيئت څخه وراخوازموږ يوشمېرنورقدرمن ورونه اوخويندې پخپله خوښــــه هراړخيزې مرستې کوي دبېلګې په ډول ساحل خان ځاځی چې دارواښادقومي او ملي مشرحاجي صاحب اقبال ځاځي کشروراره دی شپه او ورځ دميرويس نيکه دجامع جومات خدمت کوي همــداراز اسلم خان ځدراڼ هم ډېرې هلې ځلې کوي زموږ دماشومانودښووني او روزنې په برخه کې محترم ډګروال صاحب راحت ګل ارام اوڅونورې خويندې او ورونه هم خپله اســـلامي اوافغاني دنده په مخ وړي ددوی ټولودې کورآباد او الله (ج) دې عوضونه ورکړي.



**يادونــــــــــــــــــــــه :**

موږدرنوهېوادوالوپه ټېره بیاجرمن مېشتو افغانانوته زېری ورکوو، چې دمیرویس نیکه په جامع جومات کې د مذهبي اوکولتوري ناستو ترڅنګ دنکاح اوفاتحونیولولپاره ټولي اسانتیاوې برابرې شوې دي تاسوپه لاندنیو شمېرولـه موږ سره اړیکه نیولای شئ .

۰۸۹۶۶۶۶۲۸۷۹

۰۱۷۴۷۱۷۰۷۰۰

دټولوافغانانودیووالی اوګران افغانستان دسرلوړی په هیله